Loba Sports Services

# LOBA Cricket Club

RF No: 029

2020/1/21

د افغانستان کرېکټ بورډ د اجراییه محترم مقام ته!

محترما:

میلیون کرېکټ خصوصي لیګ چې په لومړي خل په کال 2013 کې دکرکټ لوبې ودې لپاره په هیواد کې تاسیس شوو، چې تر دې مهاله یې څلور ځله د هیواد په کچه ترتولو ښه خصوصي او مسلکي لیګونه ترسره کړي دي او دغه تېرو څلورو پړاوونو ټولې سیالۍ یې کرکټ مینوالو ته په ژوندۍ بڼه له کورني تلویزونونو څخه نشر کړي چې له پیل څخه تر پایه د کرېکټ مینه والو د افغان کرېکټ سره د بې کچې مینې اوسپورتي تندې خړوبولو په خاطر ښکاره شوي، چې د مینه والو لخوا هم د ستاینلو ور بلل شوي دي.

د میلیون کرېکټ لیګ سیالۍ د افغان کرېکټ کلبونو او کورني کرېکټ لوبغاړو په وده او مسلکي روزنه کې خورا ارزښتمن رول لوبوي او د هغوی د انسجام لپاره قابل د اهمیت هم دي او غواړي چې همدارنګه تل د کریکټ په خدمت کې واوسي.

همدارنګه دغه ډول لوبې چې د خصوصي سکتور لخوا تر سره کیږي، د لوبغاړو او د کرېکټ تخنیکي کارکوونکو د مالي ودې، د کرېکټ لوبې او محلي مارکیټ تر منځ د اړیکو د رامنځته کیدو یو ښه وسیله بللی شي.

د همدې موخو د لا غوره تطبیق او د افغانستان کرېکټ بورډ له لوړي تاکلي لرلید ته په کتو،( چې په توله کې د کرېکټ لوبې مسلکي او اقتصادي وده ده ) او اوسنی رهبری له سترو اهدافو څخه شمېرل کیږي چې په تر لاسه کولو کې به یې ګټور تمام شي، نو همدغه اصل او د کریکټ بورډ لرلید ته په کتو سره د لوبه کرېکټ کلب غواړي، چې د میلیون کرېکټ لیګ پینځم پړاو شل اوریزه سیالۍ د کریکټ بورډ په همکارۍ، خصوصي سکتور او د کرېکټ مینه والو په مالي مرسته د کرېکټ لوبې د لا ودې او پرمختګ لپاره په لاره واچوي.

په همدې موخه د لوبه کرېکټ کلب مسؤل د کورني کرېکټ ځانګي سره د هغوی کلني پلان ته په کتو سره د روان کال د جون میاشتې له لومړۍ نېټې څخه تر پنځلسمې نېټې په منځ کې چې د لوبو لپاره یوه ښه فرصت شته دی، په نښه او د دواړه لورو په توافق دغه نېټه د میلیون کرېکټ لیګ پنځم پړاو سیالیو لپاره مناسبه وبلله.

نو ستاسو د محترم مقام څخه په ډېر درنښت هیله کیږي چې د میلیون کرېکټ لیګ پنځم پړاو سیالیو په لاره اچولو رسمي موافقه او د یاد لیګ په جون ۲۰۲۰ میلادي کال کې د ترسره کولو اجازه راکړئ تر څو وکولای شو له فرصت څخه په استفادې دغه لیګ د افغانستان کرېکټ بورډ د اصولو سره سم او د کرېکټ د قوانینو په رڼا کې د کرېکټ لوبې د ودې، پیاوړتیا او د تنکیو ځوانانو د لا تشویق په خاطر په ښه شکل تنظیم کړو.

درنښت

انعام الله شیرزاد

د میلیون کرېکټ لیګ مسؤل

Shirzad 21/Jan/2020

Add: House #6, Street#6 Darul Aman Kabul Afghanistan
Email:lobacclub@gmail.com
Phone: 0786888802

اوسنۍ کمیټه چې د افغانستان کرکټ بورډ د اصولو او تګلارې په رڼا کې
دغه دوه اړخیز مشخصې او د اجراییه ریاست سره خپلې سپارښتنې
شریکې کړې یې .

1. احمد شاه سلیمانخیل (مشر)
2. عبدالهادي دریځ
3. دولت احمدزی
4. عبدالولي امین
5. شاهد احمد الکوزی

25/01/20

- د افغانستان کرکټ بورډ د اجراییه ریاست محترم مقام ته !
- د ګمارل شوې کمیټې نظر همیشه دی -

- په درنښت -
- کمیټه -

## خصوصی لیک په هلکه د گمارل شوی کمیتی نظر:

د کرکټ بورډ مشرتابه هدایتو سر سم خصوصی کرکټ لیک میلون جام ته گمارل شوی کمیتی اعضاو چی لاندی یی نومونه لیکلی شوی دی غونډه وکړه او د میلون جام سیالیو چی د یو غوښتلیک په واسطه یی سږ کال په جون کی ترسره کولو غوښتنه شوی ده د کمیتی غړو اروزونه په لاندی ډول ده.

**لمړی:**

یاد لیک د افغانستان کرکټ بورډ منل شوی کورنی کرکټ کلنی پلان سره په ټکر کی ده په هغه وخت کی چی دغه لیک وړاندایز شوی ده د افغانستان کرکټ بورډ کورنی کرکټ کلنی پلان مطابق د زونونو په کچه دری ورځینی، نولس کلنو تر مینځ سیالی دی.

**دوهم:**

تر ټولو مهم دا چی افغانستان کرکټ بورډ سږ کال شپږیزی سیالی لری چی هغه د کورنی کرکټ پلان مطابق په اگست میاشت کی ترسره کیږی او دغه میلون لیک له شپږیزی لیک څخه مخته ترسره کول به د افغانستان کرکټ بورډ لیک ته په مارکیټ کی زیان ورسوی او له دی سره به د شپږیزی لیک مارکیټ ارزښت کم شی چی دا یو لوی تاوان ده ده.

**دریم:**

لکه څرنگه چی خصوصی کرکټ هم له مهمو اړخونو د افغانستان کرکټ ده او افغانستان کرکټ بورډ ورته ځانگړی پاملرنه کوی تر څو لا نور په هیواد کی خصوصی سکتور په کرکټ کی سرمایه گذاری وکړی نو په همدی موخه کمیټه وړاندیز کوی چی دغه لیک دی نومبر په میاشت کی ترسره شی.

**څلورم:**

میلون لیک جام ترسره کوونکی کمپنی دی افغانستان کرکټ بورډ ته یو جامعه لیکل شوی طرحه په رسمی توگه ورکړی په دغه طرحه کی د میلون لیک ترسره کولو ټول اړخونه باید روښانه وی چی لاندی موارد په کی شامل دی

- لوبډلو غوراوی اصول او ضوابط
- لوبغاړو ته ورځینی فیس مقدار
- لوبغاړو ته د ټولو سیالیو کی کډون فیس
- تخنیکی مسولینو ته ورځینی فیس
- تخنیکی مسولینو ته د ټولو سیالیو کډون فیس
- سیالیو مهال ویش
- لوبډلو تخنیکی غړو لست ( روزونکی، منیجر) او اسناد
- سیالیو کټونکی او دوهم لوبډلی ته انعامی پیسو ورکړی مقدار
- د میلون لیک سیالیو ټول لگښت بانکی ضمانت

کمیټه پورته ذکر شوی موارد وړاندیز وی او غوښتنه کوی چی ددی مواردو له پوره کیدو ورسته دی افغانستان کرکټ بورډ یاد شوی یا هم کوم بل لیگ ته په هیواد کی د کولو اجازه ورکړی او ټولو اجازه لرونکو لیگونو ته دی په هیواد کی شته وخت سره لوبغاړی او تخنیکی کارکوونکو کډون اجازه هم ورکړی.

په درنښت

Ahmad Shah

د کمیتی غړی

دکمیتی وړاندیزونه منظور دی دکورنی کرکټ څانگه دی سیالو بشپ ته په کتو لازم اجراات وکړي.

د اجرائیوی ریاست د غوښتنی سره سم د کورنی کرکټ څانګه
به د راتلونکی میاشتی د اکتوبر د 28 تر ۱۵ نومبر پوری
یاد و سیالیو ته په خپل مهالویش کی ځای ورکوی څکه چی یاد
وخت سنی کرنی کرکټ څانګه کوم صلاحیت نه لری

احسان غنیم
د کورنی کرکټ څانګی مسئول